AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۷/۱۰/۱۱

# د نجونو نړیواله ورځ

«په شنه سهار وړې نجونې له یوه ډېرانه را تاوې وې.
په کوچنیو لاسونو یې کثافات لټ په لټ کول؛ شاید
د خپلې ورځې په اړه یې د مبارکې پیغامونه
لټول.خبره مې ستوني کې بنده شوه،
له مبارکۍ ورکولو وشرمېدم.»

(دوست)



فیسبوک هم عجیبه حافظه لري، بیا یې را په یاد کړل چې نن د نجونو نړیواله ورځ ده. سمدلاسه مې هیڅ و نه شول کړای، زما د خوښې وړ د یو قلموال (ګران نعمان دوست) ځو **جملې**، چې په لومړي ځل لوستلو مې د زړه او ذهن پر تخته کېندل شوې وې؛ را په زړه شوې، ومې لیکلې، خو د تولو تورو پر سموالي باوري نه وم؛ بیا مې اصل را پیدا کړ.
په بیا لوستلو سره مې د سترګو حویلۍ را نمجنه شوه او د خپل وطن د هغو نجونو یو ستر تولی مې مخې ته ودرید چې له خپلو اساسي حقونو نه محرومې او د ښوونځي او زدکړو له دایرې لرې او د بې شمیره ظلمونو په دایره کې راګیر دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د دې ورځې په پار به زه د دوست صاحب همدا څو جملې چې ده یو کال مخکې خپرې کړې وې، را واخلم او بسنه به پرې وکړم.
زه خو یې داسې انګیرم چې په دې څو لنډو جملو کې نعمان دوست په هنرمندانه ډول یوه نړۍ درد را نغاړلې دی او د مشرانو مسولیت یې په نښه کړی دی:

**«په شنه سهار وړې نجونې له یوه ډېرانه را تاوې وې.**
**په کوچنیو لاسونو یې کثافات لټ په لټ کول؛ شاید**
**د خپلې ورځې په اړه یې د مبارکۍ پیغامونه**
**لټول.خبره مې ستونې کې بنده شوه،**
**له مبارکۍ ورکولو وشرمیدم.»**

(دوست)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ